د کوچنیانو د پاره شعرونه

محمد نواز (حقیقت)

40

سپینه کوتره

(د کوچنیانو دپاره شعرونه)

PROPERTY OF ACKU
2760

محمدنواز حقیقت

د کتاب نوم : سپینه کوتره

لیکنه : محمد نواز «حقیقت»

د ا.ج دلیکوالو دانجمن له خوا

مهتمم : گل افضل

رسام : انجینر تپاند

کال : ۱۳۶۷

گڼه : ۲۱۲

ټوک : ۲۰۰۰

دچاپ ځای : دولتی مطبعه ـ مانو تایپ

زما گرانه وطنه

زه ستکښ یم ستا بچی یم

په نړی کی نو میالی یم

تا ساتـم پخپـلو ستړو

ستا د مینی تو ر یالی یم

تهٔسی بې زه دی بلبل یم

ستا دمینی لیونی یم

ستا په‌غیږه کی رالوی شوم

په‌هر کار کی بریالی یم

غیرتمند یمه افغان یم

دپلار ځوی یم ننګیالی یم

هر خدمت ته‌ستا چمتو یم

ستاده‌سکو غرو زمری یم

دغیرت درس‌سی لوستلی

د ننګ کار کی میړنی یم

تابه جوړ لکه جنت کړم

نوی ځوان نوی ځلمی یم

ته زما د زړه لیلا یی

ستا دپاره سپیلنی یم

«حقیقت» وابی سوګند دی

زه ستګکبن یم شازلمی یم

۹ - ۵ - ۱۳۵۸

وروروڵی

دا وطن زموږ نیره کور دی

ابا دی راځنی غواړی

چی نفاق لهسنځه یوسو

وروروڵی راځنی غواړی

یکی شوی انقلاب دی

اوس سیالی راځنی غواړو

دننګو نو په موږ رچل کی

قربانی راځنی غواړی

حقیقت وایی کوچنیانو

سرلوړی راځنی غواړی

۱۳۵۹ - ۲ - ۴

پتنګان

پښتانه که تاجکان یو
ازبکان که ترکمنان یو
نورستانی که پشه یان یو
ټول دیوی ونی ګلان یو
دوروری سندری وایو
تبعیضونو سره وران یو
د وطن په محبت کی
بی له شکه پتنګان یو
ژوند ته سوله امن غواړو
مونږ د سولی پلویان یو
چی جګړه نه کوی کرکه
دغه خلکو دوستان یو
په سیرانه او غیرت کی
لکه لمر سوبه روښان یو
حقیقت وایی په شعر کی
مونږه وراره افغانان یو

۲ - ۵ - ۱۳۶۶



دپیړیو قهرمان

ددی خاورې نګهبان یم

زه سخکښ یمه افغان یم

له جګړو لړسه کر که

زه دسولی په ارمان یم

دغیرت سندری وا یم

کوردګلو ته روان یم

ساتندوی ددی ګلشن یم

زه زمری د خراسان یم

زیرک ځوی د (ملالی) یم

زه لمسی دمیرویس خان یم

د نری په هر یو ګوټ کی

لکه لمر هسی روښان یم

چی تاریخ ته‌سی خپل ګورم

د پیړیو قهرمان یم

حقیقت وایی په سینه

هم کارګر یم هم دهقان یم

۱۳۶۴ - ۹ - ۱۲

غونچی دروغی جوڕی

په سینه سینه و ایو تر انی در و غی جو ڕی

تیار ی به کی ر و ښانه پلو شی د ر و غی جو ڕی

دو ینو تو یدل بەپکی و ر کڅ شی لەو طنه

ر و انی‌دی پەهر ه خواجر گی‌د ر و غی‌جو ڕی

باغو نەاو گلو نه بەنو ر نەسو ز ی لمبو کی

منز ل‌لر ه ر سیږی قافلی د ر و غی‌جو ڕی

دسو لی‌او داسن ژ ۆ ند بەجو ڕشی پر گنو ته

دشپو پەز ڕه به بلی‌شی ډیو ی د ر و غی جو ڕی

ز ساسر و ر و ر و ر که دو طن غیږی تەر اشی

پەلار ه بەیی و شندم غنچی د ر و غی‌جو ڕی

٩ - ٨ - ٦٦

ای زماسپینی کوتری

اي زما سپینی کو تر ی
کو مه ستا سر ه خبر ی
په ملاق ملاق نخیره
کره خو ر ی خپلی و ز ر ی
ته له مو نږه جلانه شی
و ایه مو نږلر ه سندر ی
ته‌چی و الو ز ی هر خو اته
افتو نه به‌شی لر ی
ستاخبر ی هر انسان ته
دی خو ږی لکه شکر ی

۲۷ - ۱۰ - ٦٥

N

۱ پسرلی

تهٔ کېد لی چمنو نؤ کی ګلونه

بو راګا نو ا چو لی ا تنهو نه

دبلبلواوازونه دی باغو کی

بزګران کوی په ښکوکی کاروونه

هری خوا ځنی دعطر و بوی را خیژی

او چت کړی بیاغانو لو خپل سر ونه

پسر لی دانقلاب دی په وطن کی

ښکلی شوی په گلانو شړ داگو نه

داوطن په لاز رغونه او رنګین شی

انقلاب راوړی موږ ته پیغامونه

حقیقت وایی چی تل دی پسر لی وی

چی غوټی شی خندیدلو کی گلونه

۲۲-۱-۵۸

ځان او جهان

چاچي و پيژ انده ځان

پيژ ندلی شی جهان

پيژ ندلی چی ځان نشی

پيژ ندی نشي جهان

* * * * *

میړنتوب

زه سخکښ یم ننگیالی یم

دهیواد دپاکی سینی لیونی یم

د زیار کښو دلښکر سره روان یم

دغلیم دسترگو کسو ته اغزی یم

میړنتوب ایمانداری ده زمادنده

دوطن دننگ سورچل کی توریالی یم

سپیلنی به داخپل ځان کړم لهوطنه

دسیوند دملالی سکه بچی یم

۴ - ۱۲ - ۶۳

غورځنګ

لاتنکی یـم پیشاهنګ یـم

ددی خپل وطن پتنګ یـم

دغیرت درس مې لوستلی

زه بیداره او با ننګ یم

خه پرواده که کوچنی یم

د غلیم زړه ته خدنګ یم

دجهان ارتـه لمن کی

زه دسولی ستر غورځنګ یم

د دښمنـه نـه داریږم

په زړ ګی کی لوی ګړ نګ یم

په سور چپل دننګ غیرت کی

دتیری تو ری یو شرنګ یم

تـر انی دسولـی وایـم

زه سر سخت دښمن دجنګ یم

حقیقت نـه څکه ګران یم

د زیار کښو هم اهنګ یم

زموږ زړه

دا وطن زموږ ګلشن دي

زموږ ځان زموږ تن دي

سوړیي و اوره پـوسر تیری

دا زمـونږ ښکلی چمن دي

دا تهاتــو بی دافغان دي

زمونږ روح زمونږ ختن دي

و رنه‌ز رځله لــوگی شم

زمونږ زړه زمونږ بــدن دي

دغــه کو ر دحماسو دی

هــر بــچــی دده پــتمــن دی

چی اغزو ته‌یی بدگو ر ی

بس هغــه زمــا دښمــن دي

که‌غلیم ته‌سی سر تیټ کړم

نو حرام پــه‌ما کفن دی

حقیــقت و ایــی پــه مــښــه

دا وطن زمــا وطن دي

۲۷/۸/٦٦

سپینه کوتره

خنګه ښه وی چی کوتره وی زه
هر نړیوال ته بختوره وی زه
چی ترانی‌سی ولسو او ریدی
دنیکمرغی د ژوند سندره وی زه
مابه دجنګ په‌او رباران کولی
دهرکوچنی دزړه خبره وی زه
سیل‌سی کولی د نړی دخلکو
دهرانسان دزړه دلبره وی زه
کاشکی کوتره وی دسولی بڼ کی
بیابه‌نو ډیره بختوره وی زه

۱۳ - ۶ - ۱۳۵۹

PROPERTY OF
ACKU
2760

گورگوری

تولو وتوری گورگوری

دی خوږی لکه شکری

پهٔ وچتو غرونو گرځو

لهٔخوښی وایو سندری

سره واړه یو همزولی

کووخپلو کی خبری

وینو مونږ پهٔ سردروکی

شنهٔطوطیان سپینی کوتری

تولووتوری گورگوری

دی خوږی لکه شکری

۹ - ۵ - ۱۳۵۶

کنړ ناړی

زیرک

زه کوچنی هلك یم

پولادو څنی کلك یم

کوچنی که یم په عمر

غیرت څنی زه ډك یم

بچی د دی وطن یم

زسری یمه زیرك یم

غلیم ته په دګرکی

بیداره برچه پک یم

۱۲-۴-۱۳۶۲

کتاب

کتاب زما اشنا دی
ملگری سی رښتیا دی
په سینه یی زه لسولم
لارښود دی درنا دی
گرځومه یی هر خواته
په کته د هر چا دی
په غوږ چی چالوستی
ټولنه کی دانا دی
کتاب چی لوستی نه شی
هغه انسان تنها دی
کتاب زما اشنا دی
ملگری سی رښتیا دی

۹ - ۷ - ۵۲

کتواز



تیلفونی خبري

وروړسی وکړ تیلفون
ویلی خنګه دی ژوندون
ساویل شکر خیرخیرت دی
ته به کله شی راستون
خپل دیدن دی ساته راوړه
درپسی یم ځیګرخون
ده ویل رابه شم سباته
ساویل زه به شم ممنون
۱ «پېشاهنګ» مجله راوړه
چی کوم یکی ګډون
۲ «ستوری» هم ورسره راوړه
زه یی لولمه مضمون

۱۳۶۴ - ۳ - ۱۱

۱ ـ د کوچنیانو مجله .
۲ ـ د کوچنیانو جریده .

دجرگو تاتو بی

زمو بو وطن دی دجرگو تاتو بی

زره داسیا کی دزمرو تاتو بی

نه‌لری سار ی دنری په‌سخ کی

دغه‌ددنگو دنگو غرو تاتوبی

لری تاریخ کی‌دسیرانی کبسی

دادباتو رو دشملو تاتو بی

په‌شر به‌ساتو دهمت مو رچل کی

دادنیکو نو او پلرو تاتو بی

حقیقت وا یی کشرانو و رو نو

په‌سر به ساتو دجرگو تاتو بی

٢٨ - ٩ - ٣٦٣ ه

ترانه

سو له غوښتونکی ښخکښان یو موږه
ځکه جنګونو سره وران یو موږه
یو عاشقان دسولی
یو پتنګان دسولی
یو پاسوالان دسولی

بس راو تلی په میدان یوموېږه

ځکه جنګونو سره وران یوموېږه

کاراو سیالی غواړو

ژوند او خوښی غواړو

وروری، دوستی غواړو

تل به سر لوړی په جهان یوموېږه

ځکه جنګونو سره وران یوموېږه

داور لمبو پەصندیو

توروتیارو په ضدیو

دجنګ جګړو په ضدیو

حقیقت وایی سره ګلان یوموېږه

ځکه جنګونو سره وران یوموېږه

۱۳۶۱ - ۶ - ۲۵

بزگرته

لری پەستەوکی قوت بزگره

تەیی خښتن دلو رحمت بزگره

لەشارو دښتو گلستان جوړوی

دیرگټەوردی ستاخدمت بزگره

لەبیکاری ځنی تەدڼەکوی

لری پەخلکوکی عزت بزگره

خیروی ځکەپەلاسونوباندی

ورنەوباسی ښەنعمت بزگره

زیاتی‌دی و ینی خوک ځبښلی نەشی

جوړ انقلاب کړعدالت بزگره

تەسولەدوست او پهنوان انسان‌یی

ځکەدی ستایی‌حقیقت بزگره

۱۳۶۰-۵-۱۶

تل چمتو یم

پوه دنوی ژوند پهراز یم

خپل کارونو کی پیشتاز یم

دوطن په تــوده غیږ کی

دیری په لور پرواز یم

خدمتګار یم د ټولنې

دخپل وطن او هیواد سرباز یم

سوله غواړمه ژوندون ته

د زیار کښونکو همرازیم

زه چمتو یم امتحان ته

ځوان ځلمی یم یکه تاز یم

اراده مې پولادي ده

زړور ریمه ممتاز یم

خپل منزل لره رسیږم

زه روان لکه د باز یم

حقیقت ته ده څرګنده

زه مخکښ یم دوران ساز یم

۱۲ - ۸ - ۱۳۶۴

ستوری

لکه‌پەستو رو چی اسمان شه شکار ي
هسی پەسو ړه داجهان شه شکار ي
سو نړه کو چنیان یو لکه ستو رو پشان
پەسو ړه کو رکلي میدان شه‌شکار ي
بې‌خو هغه دې‌چی گلا ن و لر ی
بې کی‌همیش تازه گلان شه‌شکار ي
زمو ږه هیله‌او ارزو سو له ده
پەسو لېز ژ و ند کی‌انسان شه شکار ي
پەجنگ جگړو کی سره گلو نه شو ز ي
پەسو له‌امن کی چهان‌شه شکار ي

۱۲ - ۱۰ - ۱۳۵۷

دتن وینه

ست یم ستا په پاکه مینه

نوم دی خوږدی تر «گبینه»(۱)

ستاپه عشق کی گران وطنه

دریغ به نه کړم دتن وینه

۴ - ۱۱ - ۱۳۵۶ه

---

۱ - گبینه - بگینه

دځکش هیلی

کاشکی جنګ او جګړی نه‌وا یي

دهر چاپه خوله خنداوایي

نه‌باروت و ی نه‌توپکی

دخوښی ژوند دهرچا وایي

سرگ او ژوبلی چپری نه‌وی

تول عالم په کارلگیا وایي

سری غوتی دارزو گانو

هر زیار کښ ته په‌موسکا وایي

په‌اسمان کی وریځی نه‌وي

واړه ستوری په نڅا وایي

نه‌تورتم وی نه غمونه

هره خوا رڼا رڼا وایي

په‌رنگ رنگ گلانو فرشه

هرمیمه او سارا وایي

حقیقة سولیز ژوند

په‌هرگوټ کی ددنیا والي

۱۳۶۵ - ۷ - ۲۹

اتلان

جارشم جار زه لەعسکرو

څی سو رچل‌ته په سندرو

تل‌چمتو و ی پەسو رچل کی

دی پـەضد دیـر غلگرو

اتلان ددی هیواد دی

اخلـو پند یی لـه خـبرو

او چت سر گرځی په غرو کی

همفکران دی دکارگرو

دجگړو پـه ضد جنګیږی

دی سلګری دېـزګرو

حقیقت ځلـمی عسکر دی

شعر یی خوږدی ترشکرو

۱۲ - ۸ - ۵۹

هواباز

زه پیلوټ یم هوا باز یم
چلونکی زه دجاز یم
دهیوا د پولی ساتمه
زه دهسکو غرونو باز یم
لهسکون کومه کرکه
باهمت یم پهپرواز یم
سرسی جارشه لهوطنه
زهیی عشق کی یکه تاز یم
په ساتنه د وطن کی
زړوریمه پیشتاز یم
نه اشنا دحقیقت یم
خپلو دندوکی ممتاز یم

۱۳۶۴ - ۹ - ۷



دغیرت درس

داوطن ز ما دننگ تاتو ہی دي

نو م‌نه یی‌لو کی او سپلنی‌یمه

سر می و ر نه جار په‌مینه سینه‌شه

زه یی‌و بنبچی یم‌تو ر یالی یمه

دا به په میړانه زه سمسو رکړمه

زه یې د او چتو غرو زمری یمه

زړه کې مې احساس په غورځنګو نو دی

خیر دی که کوچنی یم ننګیالی یمه

درس مې دغیرت لوستی خپلو پوړو کې

سترګو د دښمن ته یې اغزی یمه

وایې حقیقت کو چنیانو تاسو ته

زه د ننګ دګرکې بریالی یمه

۱۳۶۶/۷/۲۰

کابل

د کابل تاریخی ښار دی

هر زیار کښ لګیا په کار دی

دا زموږ پایتخت دی

ښه ښایسته لکه جنت دي



پکی شته شنه شنه باغونه

رنگ په رنگ لوړ تعمیرونه

مکتبونه پکی ډیر شته

سل ځایونه په هر لور شته

فابریکی شته پکی ډیری

لاجوړیږی پسی نوری

پکی شته پوهنتونونه

کتابتون او روغتونونه

هلکان دی که نجونی

ترانی وایی شیرینی

دا زانګو دانقلاب ده

دا زانګو دنوی باب ده

په رښتیا یی ښه هوا ده

دد ښمن ورته سوداده

* * * * *

ویار

وطنه ستاد ننګ او پت دپاره

ستا ددفاع او دعزت دپاره

پروت یم سورچل کې په سیرانه سره

ورکوم سر ستامحبت دپاره

ستاابادي او سمسور تیا غواړمه

سلامتي ترلي ستاخدمت دپاره

په خپلو وینو ترانې لیکمه

دولسونو دوحدت دپاره

که ستا په سینه کې لوګې لوګې شم

دا به ستر ویاړوي حقیقت دپاره

۱۳۵۷ - ۱۱ - ۴

وسله وال پوځ

لوی کاروان دپرګنو دي

ستر قدرت دولسو دي

په دفاع ددی وطن کی

بېوونځی دتوریالو دي

د دښمن مقابلی ته

دا سمبال په شازلمو دي

هر ازمون ځنی وتلی

لوی کاروان دسپړنو دي

حقیقت یی ځکه ستایی

ستر لښکر دننګیالو دي

۱۳۵۷ - ۹ - ۸

مهربانی موری

موری تالوی کړم دغیرت پەزانګو
تایم روزلی دهمت پەزانګو
ستادتیو نه ساقوت اخستی
ستادشیدو نـه مالذت اخستی
زماژړاته تاژړا کړی ده
زماخندا ته تاخندا کړی ده
موری پوهیږم هیر ولی نەشم
ستا زحمتونه زەو یلی نەشم
تادیرګاللی کړاو نه پەما
خوشیدی غواړمه زەتل پەدنیا
ای ځماګرانی قدردانی موری
زما دسینی مهربانی موری

۲۷ - ۲ - ۵۷

ځان وطنه

زمونږه گران زمونږه ځان وطنه

ستاابادی لرو ارسان وطنه

سو نږپتنګان یو تهدسینی ډیوه

تانه بهځان کړو سو نږقربان وطنه

ستاهسکو غرو او هیبتناک سیندو ته

ځی په حیرت هر یو انسان وطنه

تابه‌په‌سر ساتو دننگ ډگر کی

دامو شو قول او پیمان وطنه

تاته‌چی خوک‌په‌بدو سترگو گوری

سر به‌یی‌پری کړو په‌میدان وطنه

حقیقت وایی ته‌کعبه‌یی زموږ

لاشی‌سمسوره په‌جهان وطنه

۹ - ۱۲ - ۱۳۵۸

سپوږمی

ای زماشیر ینه و رو ره

دانسان قدرت ته گو ره

چی هر کار ته یی شی پام

خاسخابه وی انجام

پەمغزوکی لری شور

لری متوکیدیر زور

راشی ولولو درسونه

چی رو بیان سوشی فکرونه

اراده چی سوقوی وي

کامیابی بەسو حتمی وي

«گاگارین» و خوت سپوږسی ته

نوم یی پاتی شو نړی ته

(ترشکووا) و ختله

نړیوالو ولیدله

هریو کارسوږنه اسان دي

دا دوران زموږ دوران دي

حقیقت وایی کوچنیانو

داجهان زموږ جهان دی

* * * * * *

رفیق

خپلو دندو ته دقیق یم

د زیارکښو ښه رفیق یم

ښو و نځی ته ځم په مینه

زه روان په دی طریق یم

زه مخکښ د دی هیواد یم

دغلیم زړه ته حریق یم

۱۳ – ۹ – ٦۲

دغیرت زانگو

زما وطن زمادمینی محبت زانگو ده
زمادننګ او دغیرت زانګو ده

تل یې په غیږه کې زمریان روزلي
دا د رزمونو او همت زانګو ده

هر یو بچی یې دی پتنګ د مینې
دامو دژوند او شرافت زانګو ده

دده په مینه سر او مال نه تیر یو
دادو یارونو او دپت زانګو ده

حقیقت وایې تری لوګی لوګی شم
دادزیار کښو دوحدت زانګو ده

۱۷ - ۸ - ۱۳۶۵

قسم

وطنه ستا په هسکو غرومی قسم

ستا په پراخو پرگنـومی قسم

ته می لیلایی زه مجنون یمه ستا

ستا دغیرت په ترانـومی قسم

مو ږ پتنگان یو ته دمیـنی ډیوه

ستا په رنگینو سردرومی قسم

تابه سمسور کړم زه په مینه مینه

سـتاداولس پـه ارادومی قـسم

قربانـو وسر ستادپت سنـگر کی

ستاداتلوشهیدانو په جندومی قسم

ستا غلیمانو ته بهسر تیټ نه کړو

ستاد تاریخ په افسانومی قسم

حقیقت وایی نوی ژوندجوړو

دانقـلاب پـه پـلوشـومـی قسم

۱۱ - ۷ - ۵۹

د انقلاب شهیده

ستا جنلږی بەتل ر یږی
تە لە هیچانە هیر یږی
ا تلـو الە ستـا شـهـیـدە
پەتاریخ کی ستایل کیږی
تەمشعل شوی دسری لاری
زیارکښان پەتانازیږي
ستـا پـەلارەبـەروان یـو
کە هـڅـونە مـوماتـیږی
ستـاد سروینو بـیرغ بە
تر اسمانە پورتە کـیږی
حـقـیقـت وایی شـهـیـدە
ستا دښمن بە نـابودیږی

۲۱ - ۴ - ۱۳۶۰



40

شاګردانیو

په شوق لولو خپل درسونه
ورنه اخلو ډیر پندونه
چې د کور ځني روان شو
راسره وي کتابونه
هر مضمون شو موږ لوستلی
روښان شوي موفکرونه
ښوونځی ځای دادب دی
ټول ورځو په مینه مینه
پټې ستر ګې مو شوي خلاصې
شو په برخه مو ویاړونه
هر ښوونکی مهربان دی
شاګردانیو خویندي ورونه



لار

چیساغزە دچا روبشان وی

هریو کارورتە اسان وی

چیساغزەیی روبشان نەوی

لکە ڕوند پەلار روان وی

* * * * * * *

مومانی

پسرلی شو پسرلی شو
شو لو وخت بیادمومانو
بیا لغړی ونی واړه
شولی پتی په شنو پانو
په‌دی‌غرو‌په‌دی‌رغوکی
اوازونه شو د زانو
بارانونو سخ مینځلی
د د برواود کانو
هوا نوی فضا نوی
بوی د عطرودګل پانو
پسرلی شو پسرلی شو
شولووخت بیا د مومانو

۲۰ - ۲ - ۵٦

کنړ

ترانه

داو طن داو طن کو ر دافغانانو دي
داچمن داچمن لاس کی د ز سر یاقو دی

ده نه جارو و وینه
د ه سر ه لر و مینه
داخبر ه کړو سپینه

دی کی انقلاب بر یالی کړی ز یار کښانو دی
داچمن دا چمن لاس کی د زمر یانو دی

ده نه‌جو ړو جنت
داپه‌سر ساتو او چت
ستو کی لړو قوت

دی کی ګوی دورشر وع کړی سطلوسانو دی
دا چمن دا چمن لاس کی د زسریانودي

دا دبر ګنو هیو اد
دا لری قو ی بنیاد
دا به‌او سی تل ازاد

دی کی وچت شو ی سور بیر غ د شهیدانودی
داچمن دا چمن لاس کی د رسز یانو دی

کړو به‌یی حتمی ؟ دان
دا لری تاریخ رو ښان
پیژ نی یی ټول جهان

و ایی حقیقت چی داګلشن دابلانو دي
داچمن داچمن لاس کی د زسر یانو دي

۱۳۵۸ - ۹۸ - ۱۰

سپینه‌واوره

سپینه‌و اوره چې‌وریږی
زړه زما دیر خوشحالیږی

شاړی د بختی شنه باغونه
اوچت غرونه‌یې سپینیږی

چې موسم د پسرلی شی
دسند واوبه زیاتیږی

دلمر په‌تودو وړانگو
سپینی‌واوری‌ویلی‌کیږی
حقیقته کبنت‌اوکرته
دیره گټه ور رسیږی

۲۸ - ۱۰ - ۱۳۵۶

اختر

خاینانو مات تتر شو

ورته تول یی زور تـغر شو

واک اختیار دولسو شو

په افـغـان ولـس اختـر هـو

۱۷ - ۲ - ۱۳۵۷

دتیمروز که د میدان یو
د فراه که بدخشان یو
د پکتیا که د جوزجان یو
دغزنی که دبامیان یو
قندهار که د پروان یو
که دغور یا سمنگان یو
که دبلخ یا ارزگان یو

دهلمند که دپهلان بو

کارگران بو بزگران بو

دفاریاب که‌تنکر هار بو

پکتیکا که دتخار بو

دکندز که کاپیسا بو

تول بچی دیوبابا بو

دکنړکه دکابل بو

مکه و روته دیوبل بو

دبادغیس که‌دلوګر بو

بووجود بو بولښکر بو

سرباز ان ددی وطن بو

سره‌ګلونه دچمن بو

ددی خاوری پتنګان بو

مونبرده‌کوغروباز ان بو

سره‌سره ګلونه

سری جنډی دشهیدانو

ورته وګوري ځلمیانو

دهیواد پهٔ سینه سوی

هیر سو نه شی مخکښانو

موږ یی ورونه کشران یو

دهغو پهٔ لار روان یو

سرو جنډو تهٔ یی سلام دي

پهٔ زړو اره احترام دي

جاویدان یی دی نومونه

تل پری ویاړی ولسونه

حقیقت یی ځی مزار ته

ورته وړی سره‌سره ګلونه

۱۰ - ۹ - ۶۳

نوی ارمانونه

زه شاعـر یم دکو چنیانـو
و رته لیکمه شعرونه
چی په‌لاره کی روان وی
زه یی شمارم قدمونه
دا ددی وطـن بچیان دی
پی‌ښه‌ښکاری چمنونه
د سبا و رځی لـو یان دی
لری نوی ارمانونه
احترام یی کوم پـه‌سینه
و رته کومه سلامونه
مـاتـه گران دی حقیقته
دا تنکی تنکی گلونـه

PROPERTY OF ACKU 2760

د شاعر لنډه پېژندنه

دافغانستان دجمهوریت د لیکوالو دانجمن د کوچنیانو دادبیاتو دڅانګې درهبری هیئت غړی محمد نوازحقیقت د مرحوم فیروزخان ځوی په ۱۳۳۶ ه کال کې د کونړولایت دناړی په علاقداری کې زیږېدلی دی.

ابتداییه زده کړه یې دناړی دشهیدعبدالودود په نوم ښوونځي کې او دپکتیکاولایت دسلیمان بابا دلیسې څخه په اعلی درجه فارغ شوی اولوړ تحصیلات یې دحربي پوهنتون په سیاسي پوهنځي کې پای ته رسولی دی او اوس د افسر په توګه دنده اجرا کوی.

د ۱۳۵۴ کال راهیسې په شعرو یلو او لیکلو پیل کړی او شعرونه یې د هیواد دبیلو بیلو ورځپاڼو، مجلو، راډیو او تلویزیون له خوا نشر شوی پرته له نورو اثارو څخه حقیقت په ډیره مینه کوچنیانو ته شعرونه لیکي او څو نوری د کوچنیانو دپاره شعری مجموعی لری چی چاپ ته تیاری دی

دافغانستان دلیکوالو انجمن
۱۳۸